INTERNATIONAL RESCUE COMMITTEE

# عامي او مطرحې پوښتنې:(FAQ)
# په متحده آیالاتو کې له یو کال وروسته د پناه‌اخیستونکو د حالت بدلون
# دا لارښود له اکتوبر ۲۰۲۵ څخه نافذیږي.

## د حالت بدلون (Adjustment of Status) څه شی دی؟

د **وضعیت د بدلون (Adjustment of Status)** بهیر هغه پروسه ده چې د پناه‌اخیستونکو لپاره دا شونتیا برابروي چې په متحده ایالاتو کې د قانوني دایمي استوګنې (LPRs) حیثیت ترلاسه کړي، چې ورته د **ګرین کارت اخیستل** هم ویل کیږي. پناه‌اخیستونکي باید د متحده ایالاتو ته د خپل راتګ یو کال وروسته، د **متحده ایالاتو د تابعیت او مهاجرت خدماتو اداري (USCIS)** ته د وضعیت د بدلون غوښتنلیک وسپاري.
دغه غوښتنلیک دا ټاکي چې آیا هغوی د ګرین کارت لپاره مستحق دي او که نه، او دا پروسه د پناه‌اخیستونکو لپاره **وړیا** ده. د کورنۍ هر غړی ، حتی ماشومان هم ، باید خپل جلا فورم ډک کړي. د **ژغورنې نړیواله کمېټه (IRC)** ټولو پناه‌اخیستونکو ته سپارښتنه کوي چې د غوښتنلیک له سپارلو مخکې د مهاجرت له قانوني خدمتونو وړاندې کوونکي سره مشوره وکړي، تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې هغوی مستحق دي.
تاسو کولای شئ د پناه‌اخیستونکو د وضعیت د بدلون په اړه نور معلومات دلته ومومئ . [here]

## زه یو پناه‌اخیستونکی یم چې له یو کال څخه زیات وخت کیږي په متحده ایالاتو کې اوسیږم، خو لا مې د حالت د بدلون غوښتنه نه ده کړې. څه باید وکړم؟

**اندېښنه مه کوئ!** که تاسو یو پناه‌اخیستونکی یاست چې له یو کال څخه ډېر وخت مو په متحده ایالاتو کې تېر کړی او لا مو د وضعیت د بدلون غوښتنلیک نهدی سپارلی، نو په جدي توګه درته سپارښتنه کیږي چې له یوه **د مهاجرت قانوني خدمت وړاندې کوونکي** سره مشوره وکړئ.
وروستیو پالیسیو بدلونونو ښايي ستاسو پر مستحقوالي یا وړتیا اغېز ولري، نو اړینه ده چې د **USCIS** ته د هر ډول غوښتنلیک له سپارلو مخکې خپلې ټولې انتخابي لارې ښه درک کړئ. تاسو کولای شئ د تیټ لګښت قانوني خدمتونو لست **دلته** [here] پیدا کړئ، یا د یو مسلکي مهاجرت وکیل لټون **دلته**[here] وکړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې یوازې له باوري سرچینو مرسته ترلاسه کوئ، لکه یو جوازلرونکی وکیل یا د متحده ایالاتو د عدلیې وزارت (U.S. Department of Justice) لخوا تصدیق شوی قانوني استازی.

## آیا هغه پناه‌اخیستونکی چې له یو کال وروسته د حالت د بدلون غوښتنه ونه کړي، ممکن ونیول شي یا له هېواده وایستل شي؟

**د قانون له مخې،** پناه‌اخیستونکي مکلف دي چې له یو کال وروسته د وضعیت د بدلون غوښتنه وکړي، خو یوازې د دې لپاره چې غوښتنه یې نه وي سپارلې، نه یې د پناه‌اخیستنې موقف له منځه ځي او نه له هېواده ایستل کیږي. په تاریخي توګه، د متحده ایالاتو حکومت یوازې هغه پناه‌اخیستونکي بندول یا ایستل چې یو کال وروسته یې د وضعیت د بدلون غوښتنلیک نهو سپارلی **او یو خاص دلیل موجود و** چې باید له هېواد څخه وایستل شي.

## کوم لاملونه کولای شي د پناه‌اخیستونکي د نیول کېدو یا ایستل کېدو لامل شي؟

هغه کړنې چې ښايي د بند یا ایستلو لامل شي عبارت دي له: جرمونو سزا، د پناه‌اخیستنې د غوښتنلیک پر مهال د امریکا حکومت ته دروغ ویل، د ترهګریزو فعالیتونو سابقه یا د ترهګرو سازمانونو ملاتړ، د نورو د ځورونې یا تعذیب برخه اخیستل، او نور ورته موارد. د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت تازه ځینې نوي بهرني ترهګر سازمانونه اعلان کړي دي. تاسو کولای شئ د دغو سازمانونو تازه لست **دلته** [here] وګورئ.
که تاسو له دغو سازمانونو سره اړیکه لرئ، یا اندېښنه لرئ چې ښايي دا حالت پر تاسو تطبیق شي، نو حتماً د مهاجرت له یو قانوني خدمت وړاندې کوونکي سره مشوره وکړئ.

## ؟ آیا پناه‌اخیستونکي کولای شي پرته له دې چې خپل حالت بدل کړي، کار ته دوام ورکړي؟

**د پناه‌اخیستنې حالت (Refugee Status)** هېڅکله نه پای ته رسیږي ، که یو څوک د یو کال وروسته هم د وضعیت د بدلون غوښتنه ونه کړي، د هغه د پناه‌اخیستنې حالت نه ختمیږي. پناه‌اخیستونکي د کار جواز (Work Authorization) له مخې **اجازه لري کار وکړي** او که اړتیا وي، کولای شي خپل د د کار جوازکارټ (EAD) نوی کړي

## آیا پناه اخیستونکی چې د حالت بدلون ونکړي ، کولی شي له دولتي امتیازاتو او مرستو (benefits) ګټه واخلي ؟

د **جولای ۲۰۲۵** له نافذ شوي قانون سره سم، د امریکا د حکومت پر بنسټ ، پناهاخیستونکي نور د ځینو فدرالي امتیازونو مستحق نه‌دي ، د بېلګې په توګه، د خوراکي موادو د مرستې پروګرام (SNAP) تر څو چې په امریکا کې ددوی ۵ کلونو نه وي تېر او د قانوني دایمي استوګني (LPR) ګرین کارټ حالت ترلاسه نه کړي. همدارنګه، د **اکتوبر ۲۰۲۶** څخه وروسته، پناهاخیستونکي به د **Medicaid** لپاره مستحق نه وي، او تر هغه چې د امریکا په متحده ایالاتو کې یې ۵ کلونه ونه اوسیږي او د LPR یا ګرین کارت ( قانوني دایمي استوګنی) حیثیت ترلاسه نه کړي، نه‌شي کولای په **یارانه‌دار روغتیایي بیمه (subsidized health insurance)** کې شامل شي او نه هم د **Affordable Care Act (ACA)** له مالیاتي امتیازونو ګټه واخلي. **یادونه**: د دغو امتیازونو مستحق‌والی له یوه ایالت څخه بل ته توپیر لري، نو د لا زیاتو معلوماتو لپاره له خپلې **د بیا مېشتېدو ادارې (Resettlement Agency)** یا د ایالتي امتیاز ورکونکي ادارې سره اړیکه ونیسئ.